
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

مصري خان خاطر اپریدے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# تړون

د خیبر دړې
د شاعرانه غېږې
په
نوم

د خاطر رنګين غزل ته حيرانېږم
په دې خبر خیبر کښې څهٔ دی چې لهٔ خاورو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



# فهرست


| شمېر | | مخ |
|---|---|---|
| | ( ا ) | |
| ۱ : | چې عاشق د معشوقې په لور کاته کا | ۱۴ |
| ۲ : | چې اشنا ئې ستمګر شي نو به څهٔ کا | ۱۵ |
| ۳ : | نږه چې کړي هر وخت دردونه اشنا | ۱۶ |
| | ( د ) | |
| ۴ : | کافي برقي دی دیدار د محمدؐ | ۱۷ |
| | ( ل ) | |
| ۵ : | خېږ فن کهٔ درته ما وکړل تا زهٔ وکړل | ۱۸ |
| | ( م ) | |
| ۶ : | داستا د حسن تماشې وا خستم | ۱۹ |
| ۷ : | دوا په شم تا نه قربان څهٔ وکړم | ۲۰ |
| ۸ : | باغ د مينې دې د خيال بڼکې غنچې کړم | ۲۱ |


http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ

۹ : زه نکه د مرم په شان ديدار ته اربه کېږم ——— ۲۲
۱۰ : شرمېږم چې نه يم په ځوانۍ پسې نهيږم ——— ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هوښيار نه شم ——— ۲۴
۱۲ : واخلمه تا او که دنيا واخلم ——— ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شوه زه ئې نه اخلم ——— ۲۶
۱۴ : نکه ګلې چې په ازغو کښې وينم ——— ۲۷
۱۵ : په دې دنيا کښې هسې شپې تېروم ——— ۲۸
۱۶ : اشنا که تا ته په کتو پوه شوم ——— ۲۹
۱۷ : قسمته واسې دې ويده کړم چې بېدار نه شوم ——— ۳۰
۱۸ : نور به نړۍ ته چې نه ځانئيرې چې څه وايم ——— ۳۱
۱۹ : ته به ګرځې هسې بنګلې نه به مړيم ——— ۳۲
۲۰ : بنګلي مخ ته دې د مرم په شان اربه يم ——— ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګوره سره سکور نه يم ——— ۳۴
۲۲ : سپرليه ! زه دې په غنچو کښې نه يم ——— ۳۵
۲۳ : ياره ! ستا مينې په اور سېځلې يم ——— ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې يم ——— ۳۷

( و )

۲۵ : ژوندی کله ته ما پوه دی بې له خاوره ——— ۳۸
۲۶ : خوږ به زه ئې د برمه به سرو سترګو ——— ۳۹
۲۷ : نور به څه يو سې زما په تورو سترګو ——— ۴۰

مخ

۲۸ : بيا دې سې نه کړم په هغې سترګو ——— ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې ټوله شپه سحر ليدلو ——— ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا له وېره پېغور يغلې سره لاړلو ——— ۴۳
۳۱ : باد شو مه د عشق ډګر ته ګورم په سر ونو ——— ۴۴
۳۲ : غم به سره پټ درا په به نړۍ ذره ذره يو ——— ۴۵
۳۲ب : څکه هم تن په سره زړه دو ترې کړه ——— ۴۶
۳۲ج : منه شوله وږمه چې اشکارې وکړه ——— ۴۷

( ه )

۳۳ : خبر نه وم دې ثواب او دې عذاب ته ——— ۴۸
۳۴ : زه په مه حيران د دنيا سترګو ته ——— ۴۹
۳۵ : ته چې رقيب ته اشارې کړې داد مل نخښه ده ——— ۵۰
۳۶ : خوا د ژاغه ته شو د خيرو هسې نامه پاتې ده ——— ۵۱
۳۷ : بېګا ستا په انتظار هسې سترې ټوله شپه کړه ——— ۵۲
۳۸ : لږ د نقاب لرې کړه د زړه کړه ——— ۵۳
۳۹ : ما په شرګين تا په خوږ تېره کړه ——— ۵۴
۴۰ : رقيبه په خير راغلې اشنا خيرې کړه ——— ۵۵
۴۱ : ياد شرابونه شي دې باسه ——— ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان يوسه ——— ۵۷
۴۳ : نکه ګلې د مرسپېدو وکه شه ——— ۵۸
۴۴ : ستا له سپينه مخه ځار زما زړګے شه ——— ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه دوې په لاس کښې راغله ——— ۶۰
۴۶ : ترڅې ته مې نړۍ کيږي کله کله ——— ۶۱

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




مخ

٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شوله ـــــــــ ٦٢

٤٨ : بیا به سره کړو اوس ځواني ده دمه ده دمه ـــــــــ ٦٣

٤٩ : شکر دے چې زه هم د ښپې شومه ـــــــــ ٦٤

٥٠ : کله چې په فکر کښې د ستا یمه ـــــــــ ٦٥

٥١ : د لارې غبار به شم د ښپې ځنې د تلې یمه ـــــــــ ٦٦

٥٢ : توبه خلګه تېر یې کا په هر ښیار باندې وختونه ـــــــــ ٦٧

٥٣ : ما په مثال لکه پتنګ ګڼه ـــــــــ ٦٨

٥٤ : د ستا د خلې چې فیصله مانه شوه ـــــــــ ٦٩

٥٥ : ترو نصر به خوږو کښې دا فسون مه ډکړه ـــــــــ ٧٠

٥٦ : ته خو وایه زه به څۀ کړم، زړګیه لېونیه ! ـــــــــ ٧١


## ۀ


٥٧ : ځیګر چې شو کباب به لېرې د کېږدۀ ـــــــــ ٧٢

٥٨ : لرے دریاب د مینې نۀ شي په وایۀ زړۀ ـــــــــ ٧٣


## ی


٥٩ : داسې بله شپه به په نصیب سره راځي ـــــــــ ٧٤

٦٠ : عکس د ستا نما د سترګو لا ځجاب وي ـــــــــ ٧٥





٦١ : د ستا سترګې چې کړې د زړه نه وځي ـــــــــ ٧٦

٦٢ : زړګیه ! تا دې چې درد ونه څۀ دي ـــــــــ ٧٧

٦٣ : چې پښېمان نۀ شې په یا کښې څۀ دي ـــــــــ ٧٨

٦٤ : کله د ستا د خندا بد ورشپې دي ـــــــــ ٧٩

٦٥ : د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي ـــــــــ ٨٠

٦٦ : زما چې دا مدام د غه دلبر له سترګې دي ـــــــــ ٨١

٦٧ : څنګ خو مانله هسې بله دنیا ښکاري ـــــــــ ٨٢

٦٨ : زړۀ چې کۀ هر څو زاړه هر څۀ غوړیږي ـــــــــ ٨٣

٦٩ : زما زړۀ او د ستا سترګې سره پړېږي ـــــــــ ٨٤

٧٠ : ما لکه څو به چې زړۀ د چېرې څو دد دوزخ نه ډکا تېرېږي ـــــــــ ٨٥

٧١ : څۀ چې پرې پېماڼه ما د یار سره جوړیږي ـــــــــ ٨٦

٧٢ : د مخت د ګډار د ستې ما غونه نۀ جوړیږي ـــــــــ ٨٧

٧٣ : ترو به ایله څۀ دلېونو نه پاتې کیږي ـــــــــ ٨٨

٧٤ : سترګې دې کړه برېندې چې وختونه را خطا شي ـــــــــ ٩٠

٧٥ : په ارمان د نادانۍ شي چې هر ښیار شي ـــــــــ ٩١

٧٦ : دې دنیا نه چې کلان وړک شي ـــــــــ ٩٢

٧٧ : چې چې دومره د مې دلبر به پېماڼه شي ـــــــــ ٩٣

٧٨ : ستا چې خندې زلفې کړ تښه را تار شي ـــــــــ ٩٤

٧٩ : وړانده چې به دې دا وې چې کاڅه به شي ـــــــــ ٩٥


Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ

٨٠ : خزان لاړشي ،بهار راشي ګلان خوشحاله شي ________ ٩٦
٨١ : راشه په کوڅو کښې د جرګو خبرې نه شي ________ ٩٧
٨٢ : داستا په سترګو کښې به څۀ پاتې شي ________ ٩٨

ے

٨٣ : زړۀ په دا نۀ دے چې نارے مې دے ________ ٩٩
٨٤ : څوک چې ستا د ګرانې مينې طلبګار دے ________ ١٠٠
٨٥ : خوږ خوږ د مينې په ترخو کښې انتظار دے ________ ١٠١
٨٦ : خدايه څومره بې وفا زما دلبر دے ________ ١٠٢
٨٧ : ما وې ګمان راته اشنا د ستا په ښهر دے ________ ١٠٣
٨٨ : شاته چې حسن دې اشنا د سرو لمبو نه ډک دے ________ ١٠٤
٨٩ : تک تور سرے داستا سرے ورېل دے ________ ١٠٥
٩٠ : څومره ورېږې په ترنګې باندې چې غم دے ________ ١٠٦
٩١ : ستا په انتظار کښې مانه کال څۀ دے ________ ١٠٧
٩٢ : چې ترڅې ستا په تور دے په بل تور دې پيړند نۀ دے ________ ١٠٨
٩٣ : چې لمن نظر عيب د بصر باقې دے ________ ١٠٩
٩٤ : سترګې دې چلې چې وخندا زده کړے ________ ١١٠

ې

٩٥ : د ګلان سپېګکار ولو کښې سکه وې ماليدې ________ ١١١
٩٦ : اشنا چې نن ليدۀ تېرې وعدې را ياد يدې ________ ١١٢
٩٧ : زما د اميدونو غنچې شپې وغوړېدې ________ ١١٣
٩٨ : چې بنګلي دې وخندېدې شرشوې ________ ١١٤



مخ

٩٩ : پروه شومه په دې چې په کنځل کښې څنګه ښکارې ________ ١١٥
١٠٠ : اے ګله ستا چې ډکې له خندا سترګې اورې ________ ١١٦
١٠١ : کۀ دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بيا به څۀ کړې ________ ١١٧
١٠٢ : د پره خوشحالي به نۀ وه بيا راته هم پېرې ________ ١١٨
١٠٣ : لکه مجنون غر ته دې ګرځم په بيابان دې چې ________ ١١٩
١٠٤ : راشه اے ماو تابان په توره شپه کښې ________ ١٢٠
١٠٥ : چې د سترګو دې ښکاره نې زما سترګې ________ ١٢١
١٠٦ : خوږ د هسې ليرې کړې چې شي زما سترګې ________ ١٢٢
١٠٧ : د ستا چې نۀ وينم دا تورې سترګې ________ ١٢٣
١٠٨ : څۀ وشو چې سترګې مې په تابانو خونې شرلې ________ ١٢٤
١٠٩ : چې اشنا ته کړې ايسار پېرم ولې ________ ١٢٥
١١٠ : اوښکې نۀ کيږې خو راماتې شوې ________ ١٢٦
١١١ : ته به په زړۀ کښې مانه څۀ راکړې ________ ١٢٧
١١٢ : ته ما ستا شبلې يې په سله نۀ يې ________ ١٢٨
١١٣ : هر څو کۀ مې د زړۀ قرار ولاړ له راغې ________ ١٢٩
١١٤ : داسې راته ګورې ته نۀ چې راته ګورې ________ ١٣٠

## سندرې

لۀ ١٣٢ نه تر ١٦٥ پورې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کاتۀ کا
خوږ لېمۀ شي کم طاقته پرېواتۀ کا

چې پلو لۀ مخه لرې کړي دنيا شي
لکه ستړګه د سبا چې راخاتۀ کا

لرې عکس د زړۀ واخله کۀ دې شک وي
چې دا تور باڼۀ دې څرنګه ويشتۀ کا

په مئين زړۀ څنګدن شي چې يار راشي
په هيبت زړۀ په ګوګل کښې الوتۀ کا

د خاطر په زړګي داغ د بېلتون ګوره
چې د يار په لور کاږۀ واږۀ کاتۀ کا

چې اشنا يې ستمګر شي نو به څۀ کا
چې زخمي شوک په ځيګر شي نو به څۀ کا

چې ټول عمر يې تېر کړے په پالنګ وي
څۀ چې زمکه يې بستر شي نو به څۀ کا

چې په عمر کښې يې غم ليدلے نۀ وي
چې د غم سره يې سر شي نو به څۀ کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څۀ کا

کۀ ديدن د يار موندے په ډېر هنر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څۀ کا

زۀ خاطر خو همېشه دغسې وايم
چې اشنا يې مرور شي نو به څۀ کا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کاڼي بوټي دي ديار د محمدؐ
ما منلي په ديدار د محمدؐ

ګل رنګونه به يې لاړې شي په مخکښې
که چا ونيوله لار د محمدؐ

د دنيا واړه ګلونه به يې هېر شي
که چا وليده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دنيا ژړا او خندا نه وے
نه وے شمع په مزار د محمدؐ

د يادونو يې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وي يې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



زړه مې کوي هر وخت دردونه آشنا
لږ خو مې واوره فريادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مينه کښې نه
ګوره د اوښکو مې سيندونه آشنا

اوس دې له غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وي خوندونه آشنا

ته په جبين کښې دې خالونه خور دي
دي په چشمانو مې ګردونه آشنا

که ستا په خيال کښې دے اجل ته قريب
د خاطر شته دي ارمانونه آشنا

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نن کۀ دړته ما وکړل تا را وکتل
خو کوډم به دې بيا کۀ دې سبا را وکتل

هم د غسې ګلونه وو چې مينه جوړېدۀ
غمۀ وشو پسرلے دے کۀ اشنا را وکتل

دنيا را ته ګوري د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلي دي هر چا را وکتل

پۀ مخه باندې راغلي مخ دې خله پټوۀ
کړو غم دې را ته جوړ چې دې پۀ شا را وکتل

دستي مې وخندل هم دا مې وۀ اَرمان
تا چې اے رقيبه پۀ خندا را وکتل

يو دم مې زړۀ نرے شو لو هم زولو خاندګمه
خاطر چې غريو نيولي پۀ ژړا را وکتل

[illegible]



دستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے پۀ سر لمبې واخستم

لاس خو دې رانۀ کړو چې مخ پټوې
ګوري ياران مې د غم شپې واخستم
دا دړته سوال کړم چې سوال نشم کړے
واې خله تۀ چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بيا پۀ زولنو کړې ګوره
نن دې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ پۀ سبا پوه نۀ شومه
کۀ دې د زلفو تورې شپې واخستم
ګور د ژوندون را ته پرون ښکاره شو
چې تصور د هډيو واخستم
بس يادوم دې نورې مۀ تنګوه
چې را ته مې صبر نشي غوصې واخستم

خاطره تۀ او دا دنيا دې پوهه شه
نۀ بس د عشق يوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

باغ د مینې دې د خیال په کښې غنچې کړم
ستا د مغ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
شعله اور د خپله لاسه در پسې کړم

ستا د مغ کتاب د زړه په سترګو ګورم
په ځان تېرې شې او بدې را خوږې کړم

نه خاطر خو یاره ستا د مغ کتاب ته
بې له تا نه په خبر کښې ودځې شپې کړم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

○

ووایه شم تا نه قربان ځه وکړم
نور ودې د پاسه په ځان ځه وکړم

ته خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلېدلي ګرېوان ځه وکړم
ته خو چا ته نه ورځې ، خو زه یا غلم
ځ یم ستا په در کښې مهمان ، ځه وکړم
زه به نور ځه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان ، ځه وکړم
ستا په طمع ځان له باقې شوے یم
ټول خو راند لاړل یاران ، ځه وکړم
پوه دې چې په ځان کړم اوس چې نه پرېږدې
بیا به داسې نه کړم سلطان ، ځه وکړم
چا به د غم ټک ټوندون اخستے وه
بس خو چې پیدا شوم انسان ، ځه وکړم

اوس خو زه خاطر په ځه پوهېږم نه
تا چې کړ مه داسې حېران ، ځه وکړم

○

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زهٔ لکه د موم پهٔ شان دیدار ته اوبهٔ کېږم
پرېږده چې او بهٔ شم ستا رخسار ته اوبهٔ کېږم

چې ته شې خوبونه شپې پرې ستورې محفل جوړ کړې
همدا ئې مشغولا شي ستا سینګار ته اوبهٔ کېږم

زهٔ پرې بندهٔ پوهېږم ستا لیدل زما اجل دے
بیا ئې هم وار نهٔ شي ستا یو وار ته اوبهٔ کېږم

اوس خاطره ولې خدای پهٔ زړهٔ کړم دومره سخته
بیا چې پس لهٔ مرګه ستا مزار ته اوبهٔ کېږم



ستا پهٔ اُلفت کښې به هوښیار نهٔ شم
څوچې د عقل نه وزګار نهٔ شم

سود ئې د عشق پهٔ لېونتوب نهٔ شي
څوچې رسوا دې پهٔ بار بار نهٔ شم

یار ئې وفا دې ما ته هله وائي
چې تر ې لاسر او ماله زار نهٔ شم

څوچې پهٔ تورو خاورو موړ نهٔ شم
موړ به دې هرمره پهٔ دیدار نهٔ شم

کهٔ د منصور غوندې پهٔ دار شم اشنا
دا ستا لا عشق به توبه ګار نهٔ شم

خاطره! داسې ګذار عشق راکړلو[1]
چې بل ګذار ته به بېدار نهٔ شم

---

[1] متن او دیوان کښې "... راکړو" دے، چې مصرع ئې [illegible]

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا او کړه دنیا واخلم
په خندا خرڅه ژړا واخلم

لږې دې پورته کړه د مخ نه زلفې
لږه سودا چې په دنیا واخلم

ته چې په سترګو کښې مسکې شوې ګلې
نهٔ دې دردې مینې بلا واخلم

تا ته چې ګورم په دود زړه ونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل په شا واخلم

مرګ او بېلتون راته جوړه راغلی
خاطره دا واخلم کهٔ دا واخلم



خومره چې زړېږم په ځوانۍ پسې زهیرېږم
خدای زده نهٔ پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نهٔ اولهٔ تا تنګ دا مې کله چرته شوی
دومره خو پوهېږم چې قدم اخلم وددېږم
تهٔ او ستا بنایست چې په ما څنګه څنګه کېږې شی
مهٔ کوه ایله نن د هر څهٔ سره جوړېږم
نهٔ یمه خوشحاله ستا په غم کښې خندنه مهٔ شې
خدای مې بخلامهٔ کړه چې لهٔ تا . مرورېږم
شان یې د کړو نهٔ وی خو چې زړهٔ مې شی راپورته
تا ته چې نهٔ سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
غوښتهٔ مې هم دا چې راته وروایې چې درومه
خدای خبر چې بیا دې په پلوهٔ در ښکاره کېږم
تهٔ کهٔ په یو خلهٔ لهٔ ما خلاصېږې نو بې واخله
تهٔ به راته نهٔ شې کتے څهٔ له خندنه کېږم

څنګه ما خاطر درته دا وړی چې مې هېر کړه
پرېږده چې بې واره په هر ځای کښې در یادېږم

میاشتنۍ ، قند ، مردان ـ خصوصي ګڼه ۱۰ رکالین نمبر (ص ۹۵)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوشحالی ستا شوه زه يې نه اخلمَ
د ستا غمونه واړه زه اخلمَ

تا يې چې زړه دې زړه ګواه هم نه لرم
اوس به له تا نه څنګه زړه اخلمَ

اول سپېڅلې وم ستا د مينې د اور
اوس په ځان پوره شوم چې لمبه اخلمَ

په وړاندې دې ځم په دردوستو ګورم آشنا
نه قدمونه چې واړه اخلمَ

همسره ګرځي دوئ نه په خاطر دي د غم
په اسوېلو کښې چې ساه اخلمَ

د مترنم په کښې د التفات غمونه د ده چې صحيح نه دے .



لکه ګلې چې په اغزو کښې وينم
داسې يې زړه ستا په بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تور دې زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څوک به لرې اوسې له ما
نه دې د نم په پلوشو کښې وينم

د ستا ليدل تېر شوے خوب وه آشنا
بيا به دا خوب په کومو شپو کښې وينم

اے د سبا ستړې باغېڅه په ورو
تله د آشنا دې په ختو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوږد کښې ويسو
اوس يې له ګوګه په اسويلو کښې وينم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

پهٔ دې دُنیا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه یې دوه غرېې تېروم

پهٔ ما زهیر مهٔ شې خومخ بښکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوه چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر د غم چپې تېروم

○

○

اشناکهٔ تا ته پهٔ کتو پوه شوم
نو بس پهٔ ټولو تماشو پوه شوم

بس خو معلومه شوه چې نهٔ را دروې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوه شوم

یا د ساقي د میرخوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس پهٔ نشو پوه شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوه شوم

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


قسمته داسې دې ودۀ کړم چې بیدار نۀ شوم
بغیر لۀ تا ستا د غمونو نه وزګار نۀ شوم

پۀ دې دنیا کښې به غیر ستا لۀ ژوندۀ ځۀ ژوندی
لمبېږم غم د غم ځوړېږم خو یو ځل پۀ کښې خمار نۀ شوم

ستا پۀ الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جرګو ځنې ویزار نۀ شوم

تۀ چې راکوړې زۀ به هغه وخت پۀ طمع ومه
یو ځل هم مړې د ستا د خُلې پۀ ښۀ ګفتار نۀ شوم

هغه وعده چې تا پۀ سترګو کښې وه ماته کړې
دا نۀ خاطر دې د وعدې پۀ انتظار نۀ شوم

نور پۀ زړۀ مې نۀ ځانېږی چې ځۀ وایم
دانه بیا مسرورېږی چې ځۀ وایم

کۀ ځۀ نۀ وایمه هم راپورې کښی
پۀ دې هم راته قهرېږی چې ځۀ وایم

د هر چا پۀ لوری ځمه داسې وخت دے
بیا مې وخت کله تېرېږی چې ځۀ وایم

کۀ خبره نۀ وی ما نه خبر دے خبرے
بیا خپل حسن نه خبرېږی چې ځۀ وایم

پېره ښه پۀ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې مې شرمېږی چې ځۀ وایم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ به کرڅې مسې بنګلے زهٔ به مړ يم
چې يې اوس وګے لرې ليدلے زهٔ به مړ يم
جنازه يې چې له کوڅه ګوډ تــه دروړی
تهٔ به نهٔ وې راو تلے زهٔ به مړ يم
خداې د پاره پهٔ مزار يې چې را دروړې
لږ شه ماته پښه نيولے زهٔ به مړيم
زهٔ به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندی به ټول کلے زهٔ به مړيم
وچې ترغې به پهٔ ما وی را ذرغونې
وی مزار به يې مُښلے زهٔ به مړ يم
اے اشناچې دې وطن له تهٔ را دروړې
خړخېبې خو دې ليدلے زهٔ به مړيم
خرې خاورې به پهٔ ما باندې انبار وی
هر سهے به دروی غلے زهٔ به مړيم

د کاکل پهٔ خته بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر پهٔ خدای سپارلے زهٔ به مړيم



بنګلی مخ ته دې د موم پهٔ شان اوبهٔ يم
لکه کاڼے مسې کلک ورته پهٔ زړهٔ يم

چې پهٔ کومه لاره لاړشی زهٔ يې مل يم
لکه ګرد يې مسې خود پهٔ هر يو پلهٔ يم

زهٔ پهٔ کومو سترګو ځان ته بيمار وايم
چې د ستا نوم اخستے شمه نو ښهٔ يم

ستا ليدل لکه د خوب ليدل دی يارهٔ
پهٔ دې خوب پسې لا هغسې وُدهٔ يم

لږ د ځان سره پهٔ زړهٔ کښې فکر وکړه
زهٔ خاطر دې چرې يو ځلې پهٔ زړهٔ يم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کوره چې رنګ مې سوے سکور نهٔ یم
طاقت مې نشته ستا د زور نهٔ یم

راځه د سترګو نه مې مهٔ دېرېږه
سرې پهٔ ژړا دي ځکهٔ مخمور نهٔ یم

دې اسویلو ته مې تهٔ نهٔ ګورې ځهٔ
سوے پهٔ اور یم سوے لور نهٔ یم

ستم کوه تهٔ منع کوے یې چا
زهٔ لا خاطر مرے د ګور نهٔ یم



سپړلیه زهٔ دې پهٔ غُنچو کښې نهٔ یم
عادت پهٔ داسې تماشو کښې نهٔ یم

کهٔ راکوې نو سم شراب را کوه
زهٔ دې ساقي هسې اوبو کښې نهٔ یم

اے خدایه بس ما خپله ورځ ولیده
د داسې ژوند پهٔ تېرېدو کښې نهٔ یم

د ستا بانهٔ د ستا رخسار پهٔ خاطر
بې د ګلونو پهٔ ازغو کښې نهٔ یم د

تهٔ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نهٔ شې پهٔ در تلو کښې نهٔ یم

د متن لیکنه او دیوان کښې دا بیت د غزل وروستي بیت دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د منزل په منزلونو کښې يم
د دسېدو په اميدونو کښې يم

نه مې دنيا نه مې عقبا لګيږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې يم

د ستا رخسار به مې هېر نشي اشنا
که د بهار په سرو ګلونو کښې يم

زما په زړه کښې خو هم ته يې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې يم

○



○

ياره ستا مينې په اور سېزلې يم
دروغ به نشمه په زړه داغلې يم

خودم قسم چې ترهغې پورې ژوندې يم
ډېر دې نه په تش ديدن ساتلې يم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست يم
ياره تا کله خوشحال ليدلې يم

خوار خاطر وائي چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلې يم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ژوندی کله نهٔ ماپهٔ دی بې لهٔ خاورو
نهٔ ماپهٔ دی نهٔ ساپهٔ دی بې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلے په ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی بې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شو نو کلک شو
دیوال کړے چا اوبهٔ دی بې لهٔ خاورو[2]

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
پهٔ دې خبر خبیر کښې څهٔ دی بې لهٔ خاورو

○

---

[1] مستزلیته او دیوان کښې د (لهٔ) په ځای صرف (ته) (د) لیکل شوي چې صحیح نهٔ دے
[2] مستزلیته او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دیوال کړے چې اوبهٔ دے چې لهٔ خاورو .



○

خود به نهٔ ئې بیرته پهٔ سرو سترګو
تیرو تمه ستا پهٔ لیونو سترګو

مهٔ توروه توری بلا سترګې دې
پام چې در ته نهٔ شی د سپینو سترګو

عمر لهٔ بې کار وی د ژړا سره
وهٔ چې ګوري چا ته پهٔ معصو سترګو

بس کړه د خاطر سره پخلا شه ته
خلق وېره عزت کړی د نیو سترګو

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



O

نور به څه یوسي زما په تورو سترګو
زړه دې وړے لا پخوا په تورو سترګو

که پروا کړمه څو زه به دې پروا کړم
نور دې څه کوي پروا د تورو سترګو

ویرې سترګې مې د سترګو په هر لور شي
کړم دې داسې وارخطا په تورو سترګو

کړی مې سترګې ستا د سترګو قدر پو مره
ور به یې نه کړم د دنیا په تورو سترګو

زه خاطر دې د ګلو سلائي وے
ښکلو لے دې اشنا په تورو سترګو

O



O

بیا دې سهي نه کړم په هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نه مې شته په نورو سترګو شک د زړه
بس څو زړه مې غل دے ستا د غلو سترګو
زه یې کړم اشنا له شوګیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا ودو سترګو
نه یم چې د زړه په سترګو تا وینم
چار نا لیدلې په پړندو سترګو
خپل مې واړه بد راځي په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د پړندو سترګو
ستا دې اوږدو ورو ځو ته حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
خبر دے دا زما سترګې څو بد دې شرې
ته خو راته ګوره په دې ښو سترګو

څومره تر پنه وړنې دی حیران یمه
سترګې د خاطر ستا له مړو سترګو

(مسودات) ریډیو پاکستان پېښور

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما د وصال په شپه کښې تېوله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتــر لیدلو

دریغه چې شپه وے د وصال خو ترقصته پورې
زهٔ په دیدن نهٔ مرېدم چې مې دلبر لـــیدلو
بیا د سحر غمونو هله لمبے کـــړمه زهٔ
سې مابنام مې نمر اوچت د غرهٔ په سر لیدلو[1]
نهٔ یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نهٔ یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځاې قمر لـیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشـر لـیدلو
چې مې را یاد کړل هغه تېر د جدائي وختونه
لهٔ غمه ډک مې ترهغې پورې اختر لـــیدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائي ربیار چې مې جانان دې مـــرور لـیدلو

[1] ...سنز ... دیوان کښې چې ... مصرع داسې ده:
د مابنام سره ... نمر مې اوچت ... په سر لیدلو

شوق مې ستا د ډېرو بېخودونو سره راوړلو
زور مې شو اوبهٔ د ستمونو ســـره لاړلو

خوښ مې اننګې شول د بڼو ازغې مې هېر شول
نېږهٔ را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلـــو
ډېرې مې کړې ټينګې خـــو آخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو ســــــره لاړلـــو
سترګې مې نیولی ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلـو نظر مې د کــــردونو سره لاړلـــو
زهٔ تر پنه لوګے شم چې به څهٔ سوے ترې راشي
نېږهٔ را نه د یار د دیـــدنونو ســـره لاړلـــو
چرته واسې یار شته لکه زهٔ په انتظار یم
ستوړے د سبا هم د فکرونو ســـره لاړلو
چرته به زما لېــــوے زړهٔ پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو د ځنځیرونو سره لاړلـو

څو به دې مهار د عشق نیولے وي خاطره
ژوند د رڅنې هسې د وختونو سره لاړلو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

باد شو مه د عشق د ګړنګونو په سرونو
په یوتم د لرې و طنونو په سرونو

د ریغه چې د ستا د اننګو خوله هم نه وي
پرې نه چې ګودم د ګلونو په سرونو
ستړګې به زما شي اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګرداپونو په سرونو
مات به ما نظر کړه چې سپهر ستړګې حق حیران شي
درد چې کړه د لیونو محلونو په سرونو
هسې هم ایرې یمه د باد سره الوځم
سکون مې خله نیسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاورې نه کړم غم د یاره کله څو پرېشي
خاورې دې پرتې وي د تېغونو په سرونو

بنګلي به سر تیټ کړي یاره ستا په تصور کښې
په خاطره ستا د غزلونو په سرونو



څو به سره پټ دواړه په زړه ذره ذره یو
که دا دې خوښه نه ده چې مرچا ته دې ښکاره یو

یو دغه بېلتون دے چې عزت مو په کښې پروت دے
څو به په کښې وایو چې مدام دې دربدره یو

ته زما په سرې شمې نه ستا په انتظار کښې
هر کله چې وي نو مرګ به دواړه په یو شپه یو

نه به کله وایم که دنیا په بله واوړي
ګرځي دې نور خلق مونږ په خپله تماشه یو

یوځ به مې سوګند شي په کښې ودڅو دیار
اوس به دواړه څه رقیبه تودې په اوبه یو

راشه مروره چې مې شک له خاطر وځي
وایو به رښتیا چې دا په څه سره خفه یو

ـــــــ
دیوان او هنر لرند کښې سرې چم کښې ... شرې دې معرکه ... رزند او ... کړی
ګه ما شمس هنر لرند کښې نشته .

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

څکه مې نن په سوځېدو تېر کړه
چې مې ژړدن په مسېدو تېر کړه
زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له تهلو مرحلو تېر کړه
دلسوزۍ مه ګڼه تپوس همدمه
زړګی مې عمر په لمبو تېر کړه
زما دا تېر ژوندون زما خو نه وو
تول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړه
پار بیا د چا له تورو زلفو نه ګرم
یوځلي مې رګ راباندې دو تېر کړه
لکه د شمعې بېګا ستا په طمع
تول انتظار مې په سلګو تېر کړه
زړه چې سپېلي ته ورځغلو نو بیمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړه
ژوندون د عشق لمبې ژوندې غځه دی
سر مې له وا پر وګرنګو تېر کړه
اشنا د ستا د بنګلي مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

○



○

بښه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې ښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړه زخمونه مې بیا هله شماره
کړه د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زه لا څه نه وایم چې داغ مې په زړه
ته لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زه له تا نه چا وېرې یم
وار به دې راشي که لږ وار دې وکړو

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خیر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصویر وم ستا په ورو ځوکېدو محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا په عشق کښې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خوشحاله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

یو ذره یې لرې نهٔ کړلو د مخ نه
فکر یوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور یادونه مې په یاد کښې رانه هېر شول
یو دوه نهٔ راځي چې کښېنمه حساب ته

واړې زړهٔ به زما هم داسې تک تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زهٔ یمه حېران د دنیا سترګو ته
ګوره کتے نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه لېونے شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
راځي شي له واره ژړا سترګو ته
داخو دې په خپله اشنا کړې دي
څله مې نهٔ ورېل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غورځندې
بیا را نغله هغه رڼا سترګو ته
تا جوړه ارادې د راتلو کړې دي
ښکارې مې رنګینه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بیا به نهٔ راکوېږي سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ چې رقیب ته اشارې کړې دا دمل نښه ده
تهٔ چې دا غلې غلې کورې دا دغل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چې مرور يې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې دچل نښه ده

تهٔ چې تپوس رانه مُدام کوې چې څهٔ لټوې؟
زهٔ چې دا لاس په سینه ږدم دا ې اول نښه ده

خاطر تا چې بېګا خوب کښې دهجران لیده
یقین مې دا دے اخرې ستا د اجل نښه ده



خواږهٔ ترانه شي دخوږ وصي نامه پاتې ده
د بدو شپې دی او د ښو صي نامه پاتې ده

تهٔ رانه هېر يې خدایه هر څهٔ پهٔ دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو صي نامه پاتې ده

پهٔ سترګو ژاړو او پهٔ زړو کښې سره خاندو اشنا
مهٔ کړه ګیلې د زړه بدو صي نامه پاتې ده

پهٔ دېره مینه کښې چې زهٔ او تهٔ پرې نهٔ پوهېږو
د صفر ورځو او د شپو صي نامه پاتې ده

چې پهٔ پلو کښې به يې پهٔ زړونو باندې اور لګو
د ستا د صفر اننګو صي نامه پاتې ده

صبا به وائې چې دخدای پهٔ خاطر ناشه لښه
پهٔ ما خاطر کښې د زړوندو صي نامه پاتې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



بېګا ستا په انتظار ې هسې ستړې تېره شپه کړه [1]
خندل راپورې ستورو چې سپوږمۍ راته ګيله کړه

ورته سر په زنګانو وم د وصال تږې ته غلې
ما به کله کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منډه نظر ستړې چې هر ستوری به ځلېده
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوری به مزه کړه

ورسره به يې نڅېده وچرۍ که شپه وچرۍ د خاطر نه
په ټولا ټولا قدم شي خو وعده يې ستا پوره کړه

[1] صحيح مصرع داسې په کار ده : خندېدل راپورې ستوري چې سپوږمۍ راته ګيله کړه



لب د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوري سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقيبان پوهه شي
پټ په لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا وارې ونه چوې
لکه تنها که ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصيحت مه کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما په شوګیر تا په خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته په ګیلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع ده یه اشنا
ما ټوله شپه په دربدو تېره کړه

مینه د ستا زما نوې زېږه سونوی
هسې لمبه دې په ایرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا له خاطره اشنا
د هجر شپه مې په سلګو تېره کړه

○



○

رقیبه په خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

څو به پټې سترګې زه د اوښکو کړم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سود مې کله کېږي د ساقي په پېمانو
د ټولې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین داوښکو په سېلابکښې
بس نور شه راته وایه د خندا خبرې کړه
په خود نه یم تپوس راځنې مه کوه ددې
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې وته کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې و باسه
یا خو تربې زما له خلې و باسه

یا مې د زړه رازونه مه لټوه
یا دې صحرا ته قافلې و باسه

څه لټوه تنګه دنیا کې شوه دبه
زر مې د ړندو له ورځې شپې و باسه

د آشنا یاده نور مې مه تنګوه
له دې سراې نه قافلې و باسه

اور د خاطر د زړه په خونه شو بل
سترګې د سترګو نه یې مرې و باسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا ارمان دې لرم
که چې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حسن چمن تړې نه شي
راشه دا اوښکو مې باران یوسه

ته چې مسکے شوې زما زړه ته ښکلیه
دا د غمو نړک جهان یوسه

خوبه زر راشه د آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روښه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

لکه ګلې له مسېدو ډکه شه
بانډه دا باغ کړه له اغزو ډکه شه

چې ستا خوږو زلفو ته نیغه نهٔ شوه
زما ښکل له زولنو ډکه شه

که یې هر څو درسره فندیوله
خو زما مینې له پېښتو ډکه شه

چې مې ژوندون له رنګینو ډک شي
بیا په غصه کښې له نشو ډکه شه

بس پښېماني له زړهٔ نه وباسه نن
وېرېږه مه له اشارو ډکه شه

چې تا مې هم ګرېوان ته خېږې ووې
هم ستا کوڅه یې له تېرتو ډکه شه

ښه دې زړهٔ تش کړه چې بیا بیا نهٔ وائي
فضا زما له اسوېلو ډکه شه

بد خواه چې لاس په سینه کېږدي در ته
د خېبر څانګې له اغزو ډکه شه

خاطره یار دې په خبر کښې اوسی
تهوله دره له سپېلنو ډکه شه

○

○

ستا له سپینه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستا نه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا په ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا یا اپرېدے یا پښتورے شه

زهٔ او تهٔ د چا ژړا او خندا څهٔ کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس د ګل غوټې ته لرې شه رقیبه
یا بخپله باندې ګل شه یا اغزے شه

زهٔ خاطر دې نور خاطر کوے نشم
اے رقیبه که پوهېږې نو سړے شه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د هجران پۀ شپه ډیوه پۀ لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله پۀ لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس ټول راله راتېر شي
چې یار راغے نو وصله پۀ لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لۀ ځانه خبرېده پۀ لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یو څېره پۀ لاس کښې راغله

چې پۀ تلو کښې شوه مسکې نو بیا به راشي
اے خاطره بس راځه پۀ لاس کښې راغله

ترخو ته مې زړۀ کېږي کله کله
پۀ خوږو سپے مې کېږي کله کله

د دردمندو نظر هغو له پۀ کار دے
چې دلاسه دې ښۀ کېږي کله کله

چې اشنا د چا نه ورک شي موندے نشي
پسې ځان هسې ورکېږي کله کله

ښکاري یار مسرور نۀ دے اے خاطره
پۀ لېمو کښې چې اوسېږي کله کله

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د بنګلی مخ شمع چې مې ده شوله
جوړه په محفل کښې نوره شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره نه ده کښې چې نه ده شوله

ډېرې وعدې بنې وی لېږې لندې ږي
اوس دې هر یو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر و نه کړلو
بنه شوه ډېره بنه شوه اشنا بنه شوله

○



○

بیا به سره ګورو اوس خُوانی ده درومه درومه
خوک کړی دومره غم خو دیوانی ده درومه درومه

اوس تهٔ ایله راغلې چې بس وخت د څنګدن شو
بیا راته ګرانیږی آسان ده درومه درومه

وې یې چې بازار ې د بناپست دے ګرم شوے
هر شے په کښې خیتلے دے ګرانی ده درومه درومه

نهٔ او تهٔ خاطره نور په څخهٔ سره خوابهٔ یُو
مینه خو هم دا پښیمانی ده درومه درومه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

شکر چې نۀ هم ستا د ښېرې شومه
اوس دې چې نۀ ښکلیه د کوڅې شومه

نۀ به په ځان څۀ وکړم چې راشې ته
واړه دې پۀ طمعه کښې ذرې شومه

دومره درنژدې یم کۀ څو لرې یم
لرې به شم لور کۀ درنژدې شومه

ښن څو دې خاطره چې سبا ته دوے
پوه دې نۀ د مکر پۀ وعدې شومه

○



○

کله چې پۀ فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لۀ ځانه څو بیا راشمه

تۀ کۀ لرې ضد نۀ څو پښتو لرم
اوس در سره څرنګه پخلا شمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نۀ کۀ د خپل زړۀ پۀ تماشا شمه
تاو یې شي د زړۀ نه ستا د مخ لمبې
کړم چې ستا د زلفو پۀ سودا شمه
نورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدایږ خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راسې ځای لره دې راوستم
اوس به نۀ د ستا نۀ د دُنیا شمه
ښن دې د پرون وه د راتلو وعده
ښن څنګه پۀ طمع د سبا شمه

ورېږي غریو نیولې راکتلی دی
لږه به خاطر ته پۀ خندا شمه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د لارې خاوره شوم د پښو څخنې وتلے یمه
اشنا پهٔ تا پسې لهٔ تلو څخنې وتلے یمه

د آشنا مخه نور مې سرے ټېروے نهٔ شي
نهٔ خو د اور او د اوبو څخنې وتلے یمه

پهٔ ښه ښېره به دې نهٔ لپ وهم نا ندمه اشنا
زړهٔ مې اوس پوه دے د ښېرو څخنې وتلے یمه

تا خو به نور راته خندلي وې چې دا غلهٔ وش
کهٔ پهٔ ټول دې د کوڅو څخنې وتلے یمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وش
نور د کړلو د کلو څخنې وتلے یمه



تو به څنګه تېرېږي پهٔ هوښیار باندې وختونه
نا پوهـ هسې تېر کړل پهٔ قرار باندې وختونه

هیڅ چرې هم سخیان خو د سبا غمونه نهٔ کا
لهٔ شومانو نه تېرېږي پهٔ خروار باندې وختونه
دا تېر وختونه پرېږده لهٔ انکار سره چې تېر شو
تهٔ راشه نور دې سم کړه پهٔ اقرار باندې وختونه
نهٔ دے هسې کرم چې څوک پهٔ غم کښې دروند ښکارېږي
پهٔ هر چا باندې تېر شي پهٔ خپل وار باندې وختونه
ګوره د هغو پهٔ نهو کښې نوره سودا نهٔ وک
تېر چې شي د ښکلیو پهٔ بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تېرېږي وخت پهٔ روغ او پهٔ بیمار
ورو تېرېږي نه ورو تېرېږي پهٔ بیمار باندې وختونه
د مخ دې تصور کړم ځکه مخ مې داسې تور دے
خبر نهٔ یې کړل تېر مې پهٔ انکار باندې وختونه

ما څنګه به لټون کړے د دنیا لهٔ غم نه خلاص یم
خاطر ما ښکلي تېر کړل پهٔ خپل یار باندې وختونه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما پهٔ مثال لکه پتنګ وګڼه
تهٔ دې د شمعې غوندې رنګ وګڼه

کهٔ ې کوثر شول نصیب د دیدن
بیا ې شهید د عشق پهٔ ننګ وګڼه

زمکه بستر وی لېونو ته مُدام
زړګیه تهٔ ئې هم پالنګ وګڼه

لکه چې خو سره ستا غمونه دي وې
پراتهٔ ې تهول په زړګی زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په څان قلنګ وګڼه



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړهٔ ې حوصله ماته شوه

شونډې دې مسې د پېدلې نهٔ وې
په زړهٔ دې بله څهٔ راتله ماته شوه
نور ې ساقي څهٔ جُرم نهٔ دے کړے
تشه لهٔ لاسه ې پیاله ماته شوه
کهٔ پهٔ عوض کښې ې هر څهٔ غواړې تهٔ
دا ې په برخه د سپېده ماته شوه
لاس ې ې وګه چې جامونو ته ځي
ما بنام څونهٔ دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دروغو تربې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

نور زهر پهٔ خوږو کښې د افسون مهٔ راکوه
دا بس دے اشنا نور دا زهرهٔ چا فرون مهٔ راکوه

تهٔ تل کړه ستمونه خو پهٔ خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو پهٔ لمسون مهٔ راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لاشې بې وعدې
دا دې وی در پاتې خو زبون مهٔ راکوه

کهٔ زهٔ چرې پهٔ خود وے نو پهٔ تا شیدا کېدم
پهٔ ستړګو ماله بار بیا د جنون مهٔ راکوه

هر څو کهٔ زهٔ خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
دګور مبارکی خو پهٔ ژوندون مهٔ راکوه

[1] دیوان او منزل نه کښې مصرع داسې ده: هر څو کهٔ زهٔ خاطر د اشنا اجل ته شوم

تهٔ خو وایه زهٔ به څهٔ کړم زړهٔ کیه لېونیه
څهٔ به کړم او څهٔ به نهٔ کړم زړهٔ کیه لېونیه

تا خو وې آبادی پرېږده، ما خو پرېښوه دلته څهٔ دی
پهٔ صحرا چې ګرځېدهٔ کړم زړهٔ کیه لېونیه

چې اشنا کړې ستړګې پورته بانهٔ ستا پهٔ لور راوړی
زهٔ بې کوم طرف کا تهٔ کړم زړهٔ کیه لېونیه

زهٔ خاطر در ته حیران یم چې پهٔ څهٔ باندې راوین شې
چې پهٔ څهٔ دې اوس وړه کړم زړهٔ کیه لېونیه

[1] منزل نه او دیوان کښې (وړه کړه) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څېګر مې شو کباب په لمبو اور ولګېدهٔ
په ما دے یک تنها کهٔ په هس لور ولګېدهٔ

چې لرې در نن دې شوم د وصال په تمنا
د ستا د ګنګرو کانو په ما شوږ ولګېدهٔ
څېګر مې تش ګوګل دے راشه وګوره تماشه
د سوو فریادونو ټنګ ټکور ولګېدهٔ
زړګیه اُمید لنه کړه پس له دې نور له وصاله
بېلتون دې څوانی مرګ شی اوس یې زور ولګېدهٔ
سپین مخ دې رابنکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د وربڅو غوندې خور ولګېدهٔ

خاطره خدای خیر کهٔ بیا دیدن وکړې دیار[1]
چې بیا د غمازانو داسې زور ولګېدهٔ

اشنا وې دا لړګی دی د خاطر داسې پلو
رقیب وې ما زېګر شړ په تناور ولګېدهٔ

۱ منزل‌نما او دیوان خاطر کښې داسې دی: خدا خاطر خدای ګړی دیدن وکړې دیار
۲ منزل‌نما او دیوان خاطر کښې "تش" ... شریه دی، چې معنی بدلوي او قافیه غلطوي



لوے دریاب د مینې نهٔ شی په واړهٔ زړهٔ
شو مه یاره بیا د ستا غوندې په نهٔ زړهٔ

چې په خُلهٔ کوی یو او په زړهٔ بله
د هغهٔ سره به مینه کړې په څهٔ زړهٔ

سوی د ننګ ته مې لپ وکوره دلبره
ما نیولے ستا د حسن په لمبه زړهٔ

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رو یه
د هر ستوری سره پورته مې خاتهٔ زړهٔ

بیا یې خوب واړه تښتولهٔ او هیبت شی
د هجران چغې چې وشی په ودهٔ زړهٔ

بې غم نهٔ دے چې یې وکړې اے خاطره
د بې غمونه دی کوه یې په ساړهٔ زړهٔ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داسې بله شپه به پهٔ نصيب سره راځي
پهٔ عمر کښې راځي خو د رقيب سره راځي

خوشحاله وی پهٔ غم کښې ځهٔ بې داده شامطام
را دروی خوشحالي دې د حبيب سره راځي

څو چې پهٔ تندی يې د ازل ليکلې نهٔ وی
دومره زحمتونه د غريب سره راځي

خندېږی اوګړېږی سرهٔ ګلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندليب سره راځي

نور خلق کهٔ رغېږی پهٔ دارو د طبيبانو
خاطر ته مرضونه د طبيب سره راځي

○

---

۱ـ متن لمبرنه او ديوان خاطر کښې الفاظ هم [illegible] نشته دي مصرعه هي وزنه او بې معنی کړی
۲ـ خطرچې ، ترکيب مصرع بې معنی کړی



○

عکس د ستا زما د سترګو لهٔ زنبار نهٔ وځي
د زړهٔ له کوره مې بېلتون پهٔ يو ګذار نهٔ وځي

داستا کوڅې له زهٔ د روغ ځان پهٔ خيال نهٔ درځم
چې تاو را تاو نشی د ستنې سوم نه تار نهٔ وځي

اے شمع رويه راشه نور د غه ضدونه پرېږده
چې پهٔ مئين دې هره شپه د انتظار نهٔ وځي

د ستا د عشق پهٔ سمندر کښې مې ژوند تېرېږي
چې په رښتيا خو سمندر وی د انکار نهٔ وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ايله زياتې شوې
ښکاری د ستا د څوانئه اوښ د ښو بهار نهٔ وځي

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتې در ته لږ پهره هجره نۀ شم
د ستا سترګې چې کوږې د زړۀ نه وځي
خدای دې هغه وخت را نۀ ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړۀ نه وځي
کۀ د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
دې وېل کۀ مې جرګې د زړۀ نه وځي
موده پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې ښ نېزې د زړۀ نه وځي
جمع زړۀ له اشنا چې زۀ د ستا یم
چرته زلفې مې خورې د زړۀ نه وځي
د مخ لرې کړه پلو زۀ دې لوګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړۀ نه وځي
ترهغې به دې رقیبه زړګے وچوی
چې خاطر د معشوقې د زړۀ نه وځي

زړګیه تا وې چې دردونه څۀ دی
دا په ګوګل کښې دې تړکونه څۀ دی
زړۀ په بڼو مې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څۀ دی
بس څرکۀ مخ دے زګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څۀ دی
نۀ ده اسانه اشیانه مې د زړۀ
لا د ستم دې تندرونه څۀ دی
د ستا منزل دې دومره نږدې شی
ګوډو ړندو ته تیندکونه څۀ دی
کۀ چې ذرې کا نور نو لا به بشۀ شی
ستا په فضا لا وسعتونه څۀ دی
چې مرور وی یو ساعت یې ګوره
چې وی پُغلا نو بیا کلونه څۀ دی
چې مرور یې پېښېدے څو نۀ شې
ما ته په غلا غلا دیدنونه څۀ دی
دا په خاطر ګلفامه ستا د شونډو
وی په خاطر دې پرهرونه څۀ دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

چې پښېمان نۀ شي په بیا کښې خۀ دی
پرېږده راوګوره په دا کښې خۀ دی

زما په اوښکو کښې خندا ده وستا
یاره دستا په دې خندا کښې خۀ دی

شمعې د ژن شپې نه سبا جوړه
سبا به مړه وې په سبا کښې خۀ دی

زړۀ مې چې ستړے په ټوپونو کړلو
ګُله دا ستا په دې ګروا کښې خۀ دی

خاطره ته چې ماته نۀ شې کسے
لږه مې پوه کړه چې په ما کښې خۀ دی

○

○

ګُله دستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

په دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

په تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا ټولې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راځېږي ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زۀ خاطر درنه تپوس کومه
د بېلتانۀ دې تورې څو شپې دی

خاطر د وینو غرغرې وکړلې
دا یې د ژوند د ختمېدو شپې دی

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دي
په دې زندان کښې آزادي پټې دي

زړه که ته غواړې نو ليوے خونه يم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي
په خوږو زلفو کښې راګوري په چل
په دې خنګل کښې دې هوسۍ پټې دي
په کومو سترګو به بيا بيا درځمه
په اشارو کښې دې تږګۍ پټې دي
خاندي چې جوړې شول د ټپه زخمونه
ايله په وينو کې خوږګۍ پټې دي
ځه شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلي پټې دي
په سرو سرو ګوډم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستي پټې دي
ستا له سيګاره ې خواني شه لوګے
وهري په خاورو کښې خواني پټې دي
د ستا په خيال زما خاطر شو ايرې
خو د اُميد په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وينمه سترګې که هر چرته سترګې دي

له هره دره وه تلې سترګې مې آشنا
که وړې دي که تږې خو دې در ته سترګې دي
نه تل را ته مروسږه په دې عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلنامه دې پرهر ته سترګې دي
د مينې سمندره سترګې غرقې ې کړې تا
وتلې ې له تا کله بهر ته سترګې دي
په اوښکو مې کړه ستره وړه ونه ې د عشق
که ګل ني د مخ رڼۍ خو ثمر ته سترګې دي
را وه چې خبرې به وه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که خوغواړی زړه له تا د يار ديدن
نه نه شم ورکولے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

نن خو ما ته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نهٔ وینم نو څله دنیا ښکاري

تنګ کوګل یې د دنیاشي چې ته یادشې
بې تا تنګه لکه کوګله دنیا ښکاري

بې لهٔ ما نه هسې ګله صحرا ښکاري
بې لهٔ تا نه هسې ګله دنیا ښکاري

چې پهٔ هجرو وصال نه پهٔ کېږي پوهېږم
داوستا ده کهٔ چې خپله دنیا ښکاري

هیڅ خاطر دې خزان ونهٔ کړو خاطره
شګفته خوره او بې ګله دنیا ښکاري

○



○

زړهٔ چې کهٔ هرڅو رانه هرڅهٔ غواړي
هیڅ نهٔ دے خبر چې هرڅهٔ زړهٔ غواړي

اے ماشومه زړهٔ ته رانه ښهٔ واؤ
مخه رانه غواړې چې ما نهٔ غواړي
تل به بې پروا وې ګرنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدهٔ غواړي
زړهٔ او د نظر ځنې دې خلاص کړمه
نور دې لا ښا ښت راځني څهٔ غواړي
هرسهار دستا د دیدن ورنه دے
راخو هم زړهٔ غواړي هم لېمهٔ غواړي
خبر نے کهٔ زهیر شوم خان ته ګران شومه
بد هم په کېږي وي چې څوک یې ښهٔ غواړي

خلق پرې تېر شوي لهٔ سرونو نه
څلهٔ ورنه خاطر پهٔ تشه څلهٔ غواړي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېژني
نور به بد کا چې پهٔ دې منع کېږي ځانېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښېږي مهٔ کړه
مئين زړهٔ مې ستا له مينې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وی پروا نشته
د کلونو لاندې غانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا وائي ..خفه شوې؟
زړهٔ مې ښهٔ شی په ګرګل کېږي نهٔ ځانېږي

زهٔ خاطر داسې هيبت ستا د راتلو کړم
که پانه چې پهٔ ونه کېږي رپېږي

ے ږوبهرېږي



ما وې نن به مې زړهٔ وچوی خپل درد ونه دی تېرېږي
ږېړۍ ده ځنهٔ کړي تېرېسونه خپل وختونه دی تېرېږي

جوړېږي تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لور ی
نن مې سترګو ته د وړاندې مثالونه دی تېرېږي

جانانه زهٔ چې زغملے شم کهٔ وی د ستا د لاسه
هر ظلم کهٔ ستمونه طوفانونه دی تېرېږي

ستا د حسن پهٔ بهار کېږي یاره نورې رنګینی نشته
د دادهر پهٔ خاطر باندې غمونه دی تېرېږي

ے منزل لنډ اد دیوان کښې د الفاظ نشته چې مصرعه چې په معنیٰ کړې وه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه چې پرې پهٔ ما زما د يار سره جوړيږي
خېر دے زما زړهٔ د انتظار سره جوړيږي

کله پهٔ يو رنګ شي بيا سل ځل پهٔ بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړيږي

وګوره واړهٔ خندګه پهٔ سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړيږي

څهٔ پهٔ خاطر کيږي نن د ښکليو پهٔ صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړيږي



د وخت د ګذارونو چې داغونه نهٔ جوړيږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نهٔ جوړيږي

يو ځلې چې وران کړے ستا تصوير راله اشنا
غم غمځې زما هغه فکرونه نهٔ جوړيږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور چې د ګډ زړهٔ پهٔ کښې برجونه نهٔ جوړيږي
اے زړهٔ ته راته وائې چې يار راشي څهٔ به کړو
لا خو به څنې وړاندې تعبيرونه نهٔ جوړيږي
زهٔ خو چې اشنا لا د پخوا نه لېونے وم
د عمر لېونو ته زنځيرونه نهٔ جوړيږي
زهٔ تا ته پهٔ قدم کښې او ته ما ته وې ولاړه
زما او ستا پهٔ منځ کښې پيغورونه نهٔ جوړيږي

خاطره يو ورځ نهٔ ده نن زړهٔ جوړ او سبا وران
چې ړوبر کوي غمونه هغه زړونه نهٔ جوړيږي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



O

نور به ایله څه د لېونو نه پاتې کیږي
ګوره چې یو کر دې چې د پښو نه پاتې کیږي

زړه مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کیږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږي

پیغمې د زړه د لمن ورڅېدې لاړې
غم دې په کښې د هر شو د نیوو نه پاتې کیږي

نه بلېدې هسې اور د مغ دې. دا مې زړه وه
ګوره چې به سکور د سرو لمبو نه پاتې کیږي

تا چې په کړو وړو د عشق بوټي لمونځ زړګیه
څنګه سې لاړې د رندو نه پاتې کیږي



وی به مې ګواه سبا د اسپین سپین دېوالونه
دغه تور لوګي چې د ډیوو نه پاتې کیږي

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سوی
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږي

باده د بېلتون چې مې په لړه بیا را نه شي
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږي

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې یې خاطره چې د پښو نه پاتې کیږي ۱

بیا راغلله شپه او څلند ستوري یار را نغې
بیا به مې خاطر نن د خوبو نه پاتې کیږي

O

---

۱ د دیوان کتبي نسخې دا سې ده: خاورې دې چا ناندې چې د پښو نه پاتې کیږي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه برندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي

څو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
وړې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي

نۀ درته لۀ واره پۀ محفل کښې کښېنۀ شم
سترګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي

عقله چې یې ووینمه زلفې تار پۀ تار
بس خویږ کړېوان ته مې لاسونه وارخطا شي

دومره اے زړګیه ! ځان ته مۀ ښکلوه ښکلے
ویره چوې لۀ واره کۀ دردونه وارخطا شي

غلۀ سره د مینې پۀ محفل کښې چې یو ځاې شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي

مل یې کړه د زړۀ مې کۀ پۀ خُولۀ نۀ بیانېږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي

څکه زۀ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پېښېده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

○

میاشتنۍ «ژوندۍ» پېښور اکتوبر ۱۹۵۹ء

○

پۀ اَرمان د نادانۀ شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوبي ورک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي یې پۀ کار نۀ وي
پۀ اَرمان د روغ صورت شي چې بیمار شي

پۀ توبه باندې وړېږه ښکاري چې زړېږي
ښکاري ښۀ چې پۀ ځوانۍ کښې توبه کار شي

لېونۍ پۀ کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښیار ځنګدن پۀ یو ګذار شي

خپله غمه د یار غم یې لېن مېلمه دے
تا به وکړمه وار وکړه کۀ دې وار شي

تۀ دې خپلې سترګې وګوره چې څۀ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

○

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي
غږ د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هېڅ نه ده
لکه دریاب کښې چې باران ورک شي

هر مړه ئې سود په لېونتوب نه کیږي
چې په منګل کښې ئې ګرېوان ورک شي

څوک به لټوه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي

○



○

چې یې روڼ دے د لېمو په پېمانو شي
سو دې کله بیا د لب په پیمانو شي

څو چې خدای را کړے نه وي نو به ژاړم
د خېبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لیونۍ غونډونه تل په لېونو شي
زه د ستا لېونو سترګو نه ځار نه کړم
که خوږونه دې د سترګو لېونو شي[1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپیلنی د وړاند بسو شي[2]

چې د زړه کور ته دې راشي پروا مه کړه[3]
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

○

[1] که دا د وا په شعر ونه منل لر نه کښې نشته
[2] دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده: چې د زړه کور ته راشي غلط دي سوزي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کوڅې را تاو شي
زما د زړه څنې ړسۍ را تاو شي

په څېره پړه لوپټه کښې تاو شي
لکه وړانه بر بوکه را تاو شي

نه به مې بيا کړې ليمې د غرونو
نه به دا ستا سترګې هوسۍ را تاو شي

په زړ بوړۍ خوبه وانه ميم له تا
نه به خاطر ستا له څوانه را تاو شي

وړاندې به مې دا وې چې کاته به شي
اوس چې په ژوند پوه شوم وايم څه به شي

وايم ستا بڼو ته د زخمي زړه نه
بس دے که وی داسې نو ساړه به شي

نه وه مې له داسې جدائي خبر
ما وې په ساعت کښې تله را تله به شي

ورځې کړې تېرې چې راشه څه غواړې
ما وې چې که راشې نو خرابه به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نه يې پرېږدی دواړه سره مړه به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړه خو د خاطر اوبه اوبه شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خزان لاړ شی بهار راشی ګلان خوشحاله شی
بلبل یې د چمن وی بوراګان خوشحاله شی

ښ خو مهٔ راکوه مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې ناپوهه رقیبان خوشحاله شی

شمع چې بلیږی د محفل د پاره خاندی
زړهٔ کښې داسې وایی چې عاشقان خوشحاله شی

راکړه جفاکانې، ستمونه کړهٔ غمونه ورک
زړهٔ کے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شی

○



○

راشه پهٔ کوڅو کښې د جرګو خبرې نهٔ شی
چرته چې پهٔ موږ کښې د پردو خبرې نهٔ شی

ډېره شپه وله راشه چې لهٔ یو بل نه خبر شو
یاره پهٔ یو شپه د ټولو شپو خبرې نهٔ شی

وایمه لهٔ ځان سره چې دا به ورته وایمه
راچې شی آشنا پهٔ څو وصلو خبرې نهٔ شی

زهٔ او تهٔ چې وو وینو لهٔ ورایه سره پوهې شو
چا وې چې پهٔ سترګو کښې د زړهٔ خبرې نهٔ شی

یاره ستا د هجر اوږدو شپو شو کیږه کړے یم
ګوره چې یې اوس پهٔ اسویلو خبرې نهٔ شی

خدای خبر خاطره زهٔ بیا چرته تهٔ بیا چرته
پرېږده اوس پهٔ تللو کښې د راتلو خبرې نهٔ شی

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا په ستر‌ګو کښې به څه پاتې شی
رقیبه یار که مې په خُله پاتې شی

ستړے مزدور سحر وختې پاڅېږی
په شو‌ګیرو مئین وعده پاتې شی

یو ځلې نیغ په دې لار تېر شه اَشنا
چې دې کاږه واږه کاته پاتې شی

افسوس چې ستا په خیال کښې څه بنکاریه
دغه ارمان به مې په زړه پاتې شی

وستایه ډېر د یار تراخه خاطره
چې په کتاب کښې دې خواږه پاتې شی

○



○

زړه په دې نه دے چې ناولے مخ دے
چې کوم يې خوښ شی هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دی خو دا مخ مې خوښ دے
والله يه ټولو کښې وتلے مخ دے

پرېږده چې اوښکې مې بهېږی په مخ
دا بې ګناه جانان رټلے مخ دے

څه وشو تا که دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړه کښې ستا ساتلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږ خوږ یو د مینې په ترخو کېږي انتظار دې
ښکلي تماشه په تماشو کېږي انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما څومره اوږدې کړې دي
ښه دے چې د ژوند په ورځو شپو کېږي انتظار دې
مه کړه ضبطه مه چې راله اوښکې وچې نه کړې
وډېرې دې د چا په دې شپو کېږي انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې وه نیوه
ما ته څه د هجر په غمو کېږي انتظار دے
لاړې د اُمید د زړګی شنې پاڼې ې وچې شوې
بیا دې ته سپرلیه په راتلو کېږي انتظار دے
ما وې چې کله نن نه وي سباله به دې خوښه شي
پرې ې در ته کړے په اسرو کېږي انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کېږي انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کېږي انتظار دے



څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سپېنګار زما په سترګو کېږي غمېږي
چې په کوم لورې زړګی مه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
که یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندونې ، تغیروي چې ې ستا مینه
بس هم دغه ې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څه په مخکښې مخکښې کېږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

که دې یار له سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونیسه دا یار دے

———

میاشتنۍ ، غُنچه ، پېښور

اګست ۱۹۶۰ ء

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه خوږمن یې وفا زما دلبر دے
چې له غمه یې زه مرم په ده اختر دے

د هجران د لاسه شپه و روځ ژړېږم
څکه داسې چې په اوښکو ګریوان تر دے

یا خو زه ورته نظر کوم نه شم
یا خو دے وږي په لمر تږي زه ور دے

اوس یې سود په بل بشر د زړګي نه شي
چې لیدلے یې د یار بښکلے بشر دے

تور بانه د یار د غشي په مثال دي
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

د دغه زه خاطر خوږوه په سپل قصور کړ
چې په څه باندې زما نه مرور دے



ما وې ځان را ته اشنا د ستا په ځېر دے
دې وې ورورستي به ته پوه شې څه واې خبر دے

دې وې زړه که خیرې ستا زما په زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشېر دے

دې وې زه یمه هرسه په مهرو روڼه
ما وې زړه زما د لوږو غرونو شپېر دے

دې وې بیا ته مخ بښکاره کړه که پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا له سره تېر دے

ما وې زه خاطر دې هر وخت یم په طمع
دې وې را شه دلته کېښه غم یې ډېر دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا ئې دلبر نه ړک دے
د زړهٔ جهان ئې د لوګو د اسویلو نه ړک دے

خوبنه ئې ستا په بڼو غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنی وطن خو هسې یاره د ازغو نه ړک دے

د ستا نصیب شه خوشحالې د بې غمې خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ړک دے

نمر مخې مخ ته ئې لهٔ وړایه ناخبر کتلی
نن را ته څکه دا جهان د پلوشو نه ړک دے

را شه ګلونه ګواهان دی په صحرا کښې زما
چې ټول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ړک دے

دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړکیه
لهٔ دې خوګو بڼهٔ دے هر څوک د تیارو نه ړک دے

زړهٔ ئې یوه د لیونتوب په کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ړک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړګے خو وختونے لا د ګیلو نه ړک دے

زما خاطر ئې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ړک کړو
دمغ کتاب دې د اله راوړه د قیصو نه ړک دے



تک تور سوے د ستا سوے وربل دے
چې دې اور د بنګلې مخ ترې لاندې بل دے

چې څو څم په مخکښې لا منزل زیاتیږی
اشنا ستا ددې منزل څنګه منزل دے

چې ئې شک په کومه لار دے سودائی شوم
ټول ئې هیڅ مو نه دے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې په کښې اوسی اے خاطره
خیبر وګڼه حرم کهٔ څو شنډل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خوږه ږېړې پهٔ زړګی باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نهٔ شی وائی کم دے

زهٔ چې مست پرېشان او سرګردان یم
مے یو غم یې لکه زلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه یو وارې پهٔ سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده کهٔ چا راوړه
پهٔ کوم ځاې باندې یې اېښے چې قدم دے
ټول عالم یې ورېصفت د سخاوت کا
ګیله څهٔ کړم چې دا خپل نصیب مې کم دے
زهٔ خوشحاله مست شومه پهٔ خندل یې
خلقه ما او پهٔ جانان کښې کوم یو کم دے
چې دلبرې پهٔ ژړا پورې نن خاندی
نن مې شوے مې د سترګو کله نم دے

حکیمانو لره مهٔ درومه خاطره
د یار شونډې دې پرهر لره مرهم دے

○



○

ستا پهٔ انتظار کښې ماته کال څهٔ دے
دومره لا ماندہ نهٔ یم ستا خیال څهٔ دے

سوزی هم هغه چې پرې بلېږی اور
خاندہ لے اشنا تا ته دُغال څهٔ دے

تا کهٔ پهٔ شاله کښې پټه ولیدم
بیا به داسې وائې چې مشال څهٔ دے

زهٔ دې مے یو غم د زړګی داغ کړم
ماته لا د ستا پهٔ جبین خال څهٔ دے

ما خو درته وېل وړېږه مې مهٔ ګوره
وګوره خاطره اوس دې حال څهٔ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نړۀ مې ستا پۀ تور دے پۀ بل تور مې پېرزو نۀ دے
نظر چې ستا پۀ لور کړم پۀ بل لور مې پېرزو نۀ دے

اے مجبوره چې مې ورانه نۀ کړې دا د زړګي خونه
ارمان پۀ کښې د يار کړمه پۀ کور مې پېرزو نۀ دے

دا نۀ چې صبر بنا پست باندې شېدا دے زما زړۀ
د ستا پۀ مخ دې سوزې خو پۀ اور مې پېرزو نۀ دے

پۀ غېر ستا د محفل څنې يې نۀ شي څۀ ګذران
د دردو به خاطر خو پۀ پېغور مې پېرزو نۀ دے

چې لېږ نظر مې د بصر پاتې دے
چورې مې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه کۀ اوږده د خوږو زلفو ده څۀ
وار دې د سپين مخ د سحر پاتې دے
ناز دې د مينې د لمبو څنې زړۀ
لا مې پۀ مينه کښې څېګر پاتې دے
تپوس د شپې وکړه کۀ وکړې يقين
ستا انتظار رانه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تنه نۀ شي
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا پۀ سر وطن ګڼلو
خبر شه اوس رانه خېبر پاتې دے
نۀ او انکار لۀ تا پۀ کومو ستړګو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نۀ د دربار پۀ خُلۀ رخصت شګګه شم
د يار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لندو پلوونو به یې څنګه خمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

نن دې ونهٔ وې په وعدهٔ کښې راته
صرف وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مهٔ کړه
اشنا خو یو چل د جفا زده کړے



د ځان سینګاروولو کښې مسکې وې ما لیدې
زما د زړهٔ په سولو کښې مسکې وې ما لیدې

پرون یې څهٔ پرواه ستا په ګذاب نهٔ وه صنم
زما په زړهٔ ویشتلو کښې مسکې وې ما لیدې

شاید چې وه دریاده حیرانتیا یې هغه وخت
اشین ته په کتلو کښې مسکې وې ما لیدې

خفه یمه په دا کهٔ بنهٔ یې ستا لهٔ سپې کړم
رقیب ته په وېلو کښې مسکې وې ما لیدې

لبان دې لکه پاڼې اشکی نې سرهٔ ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مسکې وې ما لیدې

خبرې په غصه کښې کېږی هم د چا خاطره
اشنا چې په کتلو کښې مسکې وې ما لیدې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا مې نن ليدۀ تېرې وعدې را يادېدې
دا وصل کۀ هجران وۀ، چې ګيلې را يادېدې

بس وۀ مې ستا ارمان پۀ نېږۀ کښې نن خلاوۀ[1]
دا نۀ چې ماته نورې مرحلې را يادېدې
منم چې فراقجن به نور سبا دا يادېدې
لۀ ما چې اشنا لاړۀ ماته شپې را يادېدې
کۀ هېر مې شوې، نن يادله چې هېر دې نشم بنۀ
پخوا مې لا پۀ نېږۀ کښې اوسېدې را يادېدې
وم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو نۀ
چې چرته خو به خاورې باد بېدې را يادېدې
زما د نېږګۍ يادشي د مخکې نظر سره
پۀ هيڅ نۀ هېرېدلې هم داسې را يادېدې
دا نۀ چې اوس چشمه اوس يې غټې ستاېږۀ
د ستا خمارې سترګې لا نهې را يادېدې

بېګا چې شمع روېه هرڅۀ هېر وۀ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را يادېدې

---
ـ مصرع بې معنی ده



زما د اُميدونو ورځې شپې وغزېدې
هرڅو ستا د منزل کۀ مرحلې وغزېدې

اوس چېرته تربنه لاړ شم لېونے چې کړمه يار
هرځاې کښې يې د زلفو زولنې وغزېدې

نمر مخنيه اوس دې سې لارې ماته کړې ګړکې
نظر کۀ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېدې

چا هسې داسې بعې چې خاطر کړو يار څُلا
پۀ دې د رقيبانو جنازې وغزېدې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډه ښغ ونه وې
بس کۀ په تا به یادېدې شونډې

سترګو له ژۀ کۀ قسمونه ورکړم
زړګیه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رېږېدې شونډې



پوه شومه په دې چې په کنځل کښې څنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې په خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور په یو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وایه په محل کښې څنګه ښکارې

څومره به په باغ کښې ته په غوټو وې خپل ځان ته
ګله د اَشنا په سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې یې په ما کښې دې چې ګورمه هرچا ته
نن راته اے شمعې په محفل کښې څنګه ښکارې

تا به په اَئین کښې ځان لیدلے په یو رنګ وی
راشه د خاطر په هر غزل کښې څنګه ښکارې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اے ګله! چې ستا پوښکي د خندا نه سترګې لاړې
نو خود مې لېمې برې د ژړا نه سترګې لاړې

نرګسه! پس له دې به يې د ستا په سترګو ګورم
نظرې وه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد رنګه شوه مه ګرځه پار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې مې له تا نه سترګې لاړې
ماوې چې کله ورګورې نو اوس بيا مخ پټوې
نو کوزې مې ګرېوان ته له حيا نه سترګې لاړې
يو بل ته په کاته شو او په نهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګې لاړې
لمن راشه شمع رويه! لېمې وګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه سترګې لاړې

نو څه شو که مرې د خاطر سترګې په تا نه شي
چې ډېرې داسې وينې له دنيا نه سترګې لاړې

مياشتنۍ «قند» مردان
(غزل نمبر) جولائي، اګست ۱۹۸۹ ع

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بيا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بيا به څه کړې

درته کتے نه شم حيران يم د اشنا سينګاره
تا مې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به ښېرې او دا دتهنه تل ته ماته کړې
چې يې پېرزو نه وی دعا مخه اشنا به څه کړې

چې څه يې وکړل مخه يې تول وکړل په تا خاطره
وايه چې تاله په لاس راشي په اشنا به څه کړې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

په پېره خوشحالي ښه نهٔ ده بيا رانه مه ورېږي
کله کله غم راکوه تل چې مې يار دې ورېږي

زهٔ دې يم لږکے پېښېدے نهٔ شي رانه شمې
خدايږه د دنيا نه پهٔ تيارو کښې ښه ښکارېږي

ماته د اشنا د وعدې هېر ځاې اشنا دے
اے ورېږه نظره تهٔ پهٔ هيڅ هم نهٔ مړېږي

ستا به د خاطر نه وى پهٔ زړهٔ کښې څهٔ تېرشوى
دومره بې پروا يې چې پهٔ مخ کښې مې تېرېږي

○

لے - متزلزل نه - او - ديوان خاطر - دوا رو کتابونو کښې - تاريخلے شرے دے - رښې خيال سيمه کړي



○

لکه مجنون غوندې ګرځم پهٔ بيابان دربسې
وايم پهٔ خُلهٔ ليلیٰ ليلیٰ څيرې ګريوان دربسې

نهٔ شوم خبر نهٔ د وصال لهٔ خوشحالي نه چرې
لکه وحشي ګرځمه غمونو د هجران دربسې

نهٔ دې اشنا يم نهٔ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا مې نشته دے پهٔ تا نهٔ ګرځم خفګان دربسې

چې تهٔ بيا نهٔ وائې پهٔ ما چې تهٔ شيدا نهٔ يې تهٔ
کهٔ د کمرو چې ګذار نهٔ کړې خپل ځان دربسې

پهٔ حال خبر شه چې نن دې را نهٔ شي خواله زما
چېرې پهٔ لاس ګرځي خاطره د رقيبان دربسې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

لا تکړو بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع بدیه
څو به کړمه دا ګریان په توره شپه کښې

زه خاطر د ستا د زلفو نه ډار نه کړم
ما لیدلی دی ماران په توره شپه کښې



چې د سترګو دی ښکار زړنې زما سترګې
چې یې نه شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړه کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درکوم شی نمځې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لږ راګوره د نږه سره
در نه غواړی جوړ بخښنې زما سترګې

د هرچا دې دیدنو نه مبارک شی
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا بانډې خو نه شی چې زه ژاړم
ډکې ستا د درلسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نه درکوی
هسې نه چې دی ډارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

خرد د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړه په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څه زو خونه پرې د ګرمو اوښکو اوړي
په زړا د غم پخې شوې زما سترګې
چې سبا بېګا يې ستا په در کښې نيسم
خرد د هرې يوې ناوې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نه کړې
چې له ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړي
د اول نه ډېرې ښې شوې زما سترګې

نه خاطره په ترخو زړه اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

مياشتنۍ ، غنچه ، ستمبر ۱۹۶۰ع

د ستا چې نه وينم دا تورې سترګې
په کار مې نه دی دا پورې سترګې

نه به يې د بل سترګو ته پورته نه کړم
د ستا په پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څه کومه
چې داشنا مې دی مخورې سترګې

خاطره ژاړه له هجرانه سره
په تصور کښې خو يې کورې سترګې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشو چې سترګې مې په تا باندې خوږې شولې
چاته پوره نه شوې چې دستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګرېوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلېږی دستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خوښه ټبل چې دستا خُلهٔ ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څنګه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
نورې افسانې مې په نړګوتي کښې وروستې شولې

سترګې د خاطر که ستا په سترګو تېر وتلې دی
ګوره مه دا بدې که زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چرته خاطره د ورک شوي زړهٔ
نهٔ ګورې چې تاته داشنا سترګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار بېږم ولې
چې پښېمان یې تیار بېږم ولې

په یو ساعت کښې مې بیا بیا ژړوی
چې اوس ژړېږم قرار بېږم ولې

دریغه چې سر دې د ستم نه وي نهٔ
چې نهٔ سرکېږم انار بېږم ولې

نور به دې څهٔ وکړي بانهٔ په خاطر
ټول دې پرهر کړمه وېرېږم ولې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوبنکي نهٔ کمېږي خوږا ماتې شوي
تا چې خندا وکړه نورا نړياتي شوي

څوڅلې د اوبنکو سره درغلم
داغنګه جرګې او ننواتې شوي

څو به کوري ستاسترګې نماسترګې
لرې دي وی خېږ دے هوچې نړياتي شوي

تاچې د خاطر سره څهٔ کړي دي
خېږ دے اشنا داې درته پاڼي شوي

تهٔ به پهٔ زړهٔ کښې ماله څهٔ راکوې
کهٔ راکوې ماله به زړهٔ راکوې

منع به نهٔ شم ستا لهٔ دره څنې
پهٔ دې دې نهٔ یم که څهٔ نهٔ راکوې
څهٔ لوي اختر دې دخوانئه تېر کړلو
تهٔ به لاسونه ماته بنهٔ راکوې
داسې چل وکړه چې ډېر وردو دېږم
سبا به بنکليه يو لمبه راکړه
داخوشحالی به ماته څوک راکوي
چې ټول غمونه راله تهٔ راکوې
چې پروند او ګوړ دې کړم نو ماله به شوې
اوس خو به هرڅهٔ پهٔ کالهٔ راکوې

ضد لهٔ خاطره سره مهٔ کړه تهٔ
کهٔ یو اوان راله پهٔ خُلهٔ راکوې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ خر چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوی لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

○

○

هر څو کهٔ چې د زړهٔ قرار وړلو له راځي
پرهېزم ولې نهٔ چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وی کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو ښکلولو له راځي

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هېڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نېغ مې له زړګي ووځي کاږه چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې له مخه
شي دې پلوشې ښکلې باڼه چې راته ګورې

هغه وخت لږ وېره وي که ته چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږي لکه بڼه چې راته ګورې

ته زما د زړه نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زه به درته ووایمه څه چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مه راته راګوره
زه درته کتلی نه شمه ته چې راته ګورې

# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس را نه هیڅ نۀ شي خطا ده
لۀ هرڅۀ هرڅۀ وو تمه
ګرانه اشنا دا مي سزا ده
نۀ چي پۀ تا مئینېدمه

نۀ در نه څنګه هېرېدمه — خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چي خندل نۀ ژړېدمه — لۀ هغو شپو نه وشرمېږه

هېره زما تا وله دنیا ده
شام و سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا مي سزا ده
نۀ چي پۀ تا مئینېدمه

غر پۀ غر نۀ ورځي ضمه — چي وي ژړېدلي اخر به راشي
درته پۀ زړۀ کښې به يې ساتمه — پرېږده چي موږ بۀ پۀ جناشي

زما پۀ سترګو کښې حیا ده
نۀ یې پۀ څۀ در واړومه
ګرانه اشنا دا مي سزا ده
نۀ چي پۀ تا مئینېدمه



تل به پۀ هر چا داسې کېږي — پۀ داسې خلقو چي اعتبار کا
لۀ خپله ځانه چي خبر نه وي — لۀ ګړنګو به يې ګذار کا

د ښکلو مینه بې وفا ده
نۀ به يې څۀ درته ستايمه
ګرانه اشنا دا مي سزا ده
نۀ چي پۀ تا مئینېدمه

خاطر خو مۀ وې در کتلی — اوس يې ژړوندون اختیار کړے
هغه چي تا ورته خندلي — نن يې د نورو خندا تور دے

زما د زړۀ خوږه ټپا ده
ځکه يې نۀ قراروومه
ګرانه اشنا دا مي سزا ده
نۀ چي پۀ تا مئینېدمه

د دواړه ګاڼه د (اللّٰه) پۀ ځای (د) لیکل شوي دي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

نهٔ به خندهٔ کړم ګیریبان چې یار راکړې ګُل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل
هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خند بدو ته جوړې شوې
مل به خندګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر ځیګر ورسېدٔ
بې لهٔ سوزه خوځیګروک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

اے خاطرهٔ ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل آزاره مهٔ کړه
اے شباب خاطر دهیڅا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا نهٔ د بنامار پهٔ شان خوړلے یمه
نهٔ دې د سترګو پهٔ بڼو باندې ویشتلے یمه
ځې مې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې ګرځېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې مې ځي پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې تهٔ کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور دے صنمه
خاطر کوي در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې نور دے صنمه
وهم رباب ځکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تا چې نړهٔ با بُلبلے دے
تا ووې ربېار ته پس لهٔ دې به څو راځې
خبر دے کهٔ تش تور ې دې پرون زړګے شړلے
خيال ې وهٔ سنګار ته پس لهٔ دې به څو راځې
وښايه څنګر راته — اوس د زړګی سر راته
وايه د ښهو غشو پهٔ کوم کوم ځاې ويشتلے دے
لاس کښې آئينه ې وه — کړې چې کينه ې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځې
څنګه مرې د رشمه — پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقيب راته ډک تور پک نيولے دے
يو ځلې د رغلے وم — ډېر دې زغلولے وم
غلے وم ديدار ته پس لهٔ دې به څو راځې
ساچې کوم ستم کړے — اوس ې پهٔ تاکم کړے
دا دځوانۍ ولو پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا — کړې به تل سلام دستا
پرې ې بنده دربار ته پس لهٔ دې به څو راځې

نن خو را ته مهٔ وايه چې نا — تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مينا — تر سبا
ووايه اشنا راته، تهٔ زما تعبير نهٔ يې
وی چې تل پهٔ خيال کښې ې تهٔ صفه تصوير نهٔ يې
بله راته ښکاری دا دُنيا — تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مينا — تر سبا
راکړه ساقی داسې مئ چې شی زما او ستا نشه
هم پرې د چوپتيا نشه هم پرې د دنيا نشه
جام د لبو راکړه پهٔ بيا بيا — تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مينا — تر سبا
نن خو دې راجمع څهٔ پهٔ مشو کښې کيفونه دی
سترګو پيمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستونه دی
ګلې د خاطر شه پهٔ ربشتيا — تر سبا
سود ې ساقی نهٔ شی پهٔ مينا — تر سبا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم پهٔ چم
لوند مې ګرېوان دے څاڅې مې نم

مینه وفا دې نشته
پهٔ چا پروا دې نشته
وېره لهٔ چا دې نشته
کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ مې تک تور صنمه
سوے پهٔ اور صنمه
کومه شور صنمه
وکړه کرم طلب کړم صنم

مینه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر مالیار دے دستا
دګل پهٔ چم طلب کړم صنم

۱ منتر اړبنداد دیوان کښې مصرع داسې ده چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نهٔ وباسی، زما او ستا نه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنیا نه

زما او ستا دلته څهٔ دی، خوږه مینه
دا خو هر چرته کېږی، چې داسې وینه
ځان له به جوړ کړو بوستان پهٔ بیابانه
راځه چې درومو دواړهٔ لهٔ دې دنیا نه

خو به پهٔ وېره سره، دیدن پهٔ غلا کړو
پهٔ انتظار کښې سره، بیګا سبا کړو
ته شه لهٔ زلفو تېره، نهٔ لهٔ ګرېوانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنیا نه

دا ټک د مینې زړونه، به دواړه یوسو
څه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
یو دې چار ګل پهٔ پونره بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړهٔ لهٔ دې دنیا نه

دا مې پهٔ خوا خاطر کښې، نهٔ وو صنمه
چې زهٔ خاطر به شمه، پهٔ خاطر جمعه
ځکه چې ستا لهٔ غمه، ورېږم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، لهٔ دې دنیا نه

۱ منتر اړ دیوان کښې (د) ...

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سپي نه کال ته د پښتو غمونه
له داسې ژوندنه مرګ به ښه دے راته ښېنه
الله دې خېر کړي

ستا د ممانو فرياد ونه
هېر به مې نه شي
لکه د زانو قطارونه
هېر به مې نه شي
پاس په اسمان کښې جهانونو سره ځېنه
الله دې خېر کړي

د پښتنو فقيره ژوندُه
خنګه به تېر شي
تېر خو به شي په لوږه تنده
خنګه به تېر شي
په مصيبت به دې څوک سر ته رسوينه
الله دې خېر کړي

نوم د پښتو راځي هېر شي
څوک يې يادېږي
غم د هغوي راسره پېر شي
څوک يې يادېږي
څوک چې د قام او د الله خدمت کوينه
الله دې خېر کړي

خاطره هغه خلق ستا يه
په خپل کتاب کښې
تل په بار بار دغسې وايه
په خپل کتاب کښې
حاجي سره نه په وطن ودکړي دينه
الله دې خېر کړي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې تولې په سبا سبا کېږي تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د ښا ښسته سترګو د پاره   ګلګونه ما نه ښکلیه یاره
څو مره لېږي يې په نږګوتي باندې تېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خدای د پاره بس کړه اشه   که مرو دې راځلاشه
ستا د راتلو په انتظار ې سترګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې   زما د زړه ځنې جدا شوې
زما دا سترې شوګیرې دې ټولې هېرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه   که لېرا ګورې بس روانه یمه
د پېغلتوب ملګرې ټولې دا نه کېږې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافيه درسته نه ده



وا وره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه څه له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه ښه دی په ما
زړه مې د ستا د پاره واڼي چې وی دې په ما
وا وره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کېږدي
زه به د مینې په زړه باندې داغونه کېږدي
وا وره صنم

زړه مې له خپله کوره تېښتي چې راشې صنم
خاطر به ګران دے په ما چې په خندا شې صنم
وا وره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ چې پهٔ مرګ زما رضا يې
ما ته قبوله دلــــروبا يې
ستا رضا ده چې داسې ژړېږم
پهٔ عالم کښې داسې ګرځېږم
پهٔ محبت کې نا رضا يې
ما ته قبــوله دلــروبا يې

عاشـقي وه پېــدا لهٔ اوره
لږ زمـا ســوی زړهٔ ته وګوره
جوړ پهٔ معنیٰ قيمت بها يې
مـا تـه قبــوله دلــربا يې

خاطر تـه ګوره داسې حېران دے
پهٔ محبت کښې ستا بنديوان دے
يې کبرجنه بې ريا يې
مـا تـه قـبوله دلربا يې

پهٔ تش ديدن باندې يې رو رو مشغولېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشــــم

لهٔ هرچا پټه پټه ستا يارانه به کـړمه
تا له چې درشمه نهٔ ځـهٔ بهانه بـه کـړمه
پهٔ انتظار کښې يې لهٔ ځانسره ژړېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بــلـه ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېر نهٔ کړمه
يو ساعت بې لهٔ تا به پهٔ نور ځـهٔ تېر نهٔ کړمه
پهٔ دې سودا يې وُده کېږه راويښېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بــلـه ورځ به راشم

نښه د ستا او زمـا ، ماهِ تـابان شـو ســره
بل يې کاروان د ستورو پهٔ کهکشان شو سره
د سبائی د خيال خوبونو کښې زنګېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بلـه ورځ به راشـم

ځان ته دا ټوله دُنيا خاطره مــا وکـړنه
پهٔ کښې يې مغ او نُلفي بـېګا ســبا وکـړنه
د زړهٔ پهٔ مينه کې پهٔ ستړګو کښې اوسېږه
څُم مهٔ خفه کېږه بـلـه ورځ به راشـم

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه ولـه زمـاداشنا میـنـه
اے زړه غمگینه

اے زړهٔ زرېږشه
خاورې ایرې شـه
ځې د ستـرگو د زړگی وینه
اے زړهٔ غمگینه

راشه کهٔ وینـې
د زړگی ویـنـې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راغلینه
اے زړهٔ غمگینه

خاطره داشـېـې
تـا نه جدا شـېـې
جوړ د وصـال شـېـې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمگینه

اوس به وطن د سرو گلونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېرشـو
ځـهٔ به د ښکلو نگهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېرشو
بلبله ستا د تمـاشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لاهغه د زاغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د گلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شـو
اوس به توتل بوټی سره ځان وښائی
غوټی به کلې غوټی به گلان وښائی
لاله به هم خپل کرېوان وښائی
هم به بلبل شورو فغـان وښائی
اوس به ښاخونه د رنگونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


جونه به ولونه د وربل جوړوي
په کښې ښايونه به د ګل جوړوي
سره سره غنچې به منګل جوړوي
په آئينو کښې به کاګل جوړوي

دغه جهان به له ناز ونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

بنګلي ځلمي به په شملو کښې ږدي ګل
او س ځوي به جونه په کمڅو کښې ږدي ګل
ډېر ارمانونه به په زړو کښې ږدي ګل
څوک به د زړه په پرهرو کښې ږدي ګل

داسې به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زه کوم ته د چا خندا نه وينم
چې لېده هغه رڼا نه وينم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وينم
زه نور ګلونه د دُنيا نه وينم

څوک له جهان له ديدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان رژوي
زړه په ګو ګل کښې چې جانان رژوي
د مينې ګل را نه هجران رژوي
نه کړي خاطر دغه بوستان رژوي

د مغ کتاب دې د رانونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښه به د بنګلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګے مي غواړي شمع رويه سوزېدل
راشه يو ځل

ارمان مي دا دے کۀ پوره شي
د رنځ دارو مي د اشنا سره لـــيدل
راشه يو ځل

خو به شوګير کړم راته وايه
واړه خوبونه راځـني وتښـتېدل
راشه يو ځل

کۀ ديدن کړې تلوار را وکړه
همزولې راغلې خوروي مي تور وربل
راشه يو ځل

عاشقان ګوره حال يې څۀ شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزېدل
راشه يو ځل

سوال د خاطر منظور کړه يارۀ
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه يو ځل



نن دې وربل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نۀ — اور را ته بل دے

د ژوند کاروان مي دے د غم غرو ګړدو نړېږي
واوره فرياد مي د جرس په آوازونو کښې
تلے دې پل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نۀ اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تيارې به وينم
سبا د وصل به وي لرې کۀ نږدې به وينم
د ستا منزل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نۀ — اور را ته بل دے

خاطره نن دې کۀ لږ سم راته کتلي وے
واړه بناپسته به دې لۀ زړۀ ځني وتلي وے
د کتو چل په کوم پلو دے
بيا به سوزېږمه نۀ — اور راته بل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړګې نیولې دې ما ستا په رخسار کښې
او بهٔ او بهٔ شول توری مې په خمبار کښې
ما چې لیدلے، ستا ښو کښې پل دے
غم د وحشت، وحشت دا سره مل دے
او س مشغولا کړم په دغه لار کښې
او بهٔ او بهٔ شول توری مې په خمبار کښې
نهٔ د ر ر سینې نهٔ د ر ته غــږ شی
نهٔ را نه خمب شی نهٔ را نه نــږ شی
دا څهٔ ژوندون دے په انتظار کښې
او بهٔ او بهٔ شول توری، مې په خمبار کښې
یار یې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
تکه سپوږمۍ وی، ستورو قطار کښې
او بهٔ او بهٔ شول توری مې په خمبار کښې

زما په طمع به کړې تېرمـــې وختونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وژګاره نهٔ یم
چې درته کړم
ما ته را یاد نهٔ دی څوک زهٔ په ځوانۍ کښې یـمه
په زړګی غم نهٔ لرم په خوشحالۍ کښې یمه
زهٔ لېونے یم چې کــوم دومره فکرونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وژګاره نهٔ یم
چې درته کړم
لېونۍ نهٔ یمه چې، دغسـے دا کـــومه
په تا دې اور بلېږی زهٔ څهٔ پروا کومه ے
چې بیا مسرورې را ته نهٔ کا پېغورونه
زهٔ دې یاره نهٔ یم دومره وژګاره نهٔ یم
چې درته کړم

---

ے متن لیونه او مړولا کښې د دې مصرعې داسې دی :
لېونۍ نهٔ یم چې دا سودا کړم — په تا دې اور بلېږی زهٔ څهٔ پروا کړم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نه یم چې خپل ځان وویـنم
چې په ائین کښې ګورم آئین پرېشان وویـنم
جانانه دېر درپسې ګرمه ارمانونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګـورم

زه چې ګورم له ځمه مښین سوزېږي په ما
لکه د اور په شان سپېځلې ځلېږي زما
خاطره مه راځه بلېږي سره اوروونه
زه دې یاره نه یم دومره وزګاره نه یم
چې درته ګـورم

تورې سترګې دې اشارې کا سرې شونډې دې لبې کا
زړه کیږه راته وایه چې زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانه راته ازغې کا پېښې دګلو انګې کا
چې مسکې شي بیا سترګې مرې کا سرې شونډې لبې کا
زړه کیږه راته وایه چې زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د بسره نه وي کړه چې څه دې ځ په زړه وي[1]
چې مې خلق ټول تماشې کا سرې شونډې دې لبې کا
زړه کیږه راته وایه چې زه کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په تورو شپو کښې دا دې خاطره په تیارو کښې[2]
خپلې اوښکې دې ځان ته دېرې کا سرې شونډې دې لبې کا
زړه کیږه راته وایه چې زه کوم طرف ته لاړ شم

[1] له منزل په ارډیوان کښې (تن) نشته
[2] له منزل په کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به مې ژړا په تا پسې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دلبره بنده را ته معلوم یې
مسې خو نه چې ته ماشوم یې
کله زهیر په ما مظلوم یې
چې نه پوهیږې له هغو سره وعدې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې په غمونو کې دې ګیر کړم
اوس دې دلبره څله هېر کړم
که دې یو ځل په دیدن سیر کړم



ګنې له غمه به دې مړ شم یا مړې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شې
بس اوس مې قتل ته تیار شې
اشنا زما څخې وېزار شې
پرهار مې نشته خو په خپله مې ذبح کړه
را یاد دې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

څنګه قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یاد دې دغه شپې کړې
زما نا ترسه یاره

دستا چې نه یمه د چا یم
راغلې دایم په خندا یم
مړور نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مړور شوم نو ګیلې کړه
را یاد دې هغه شپې کړه    زما نا ترسه یاره

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به د ستا د حسن وار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما
چې نه را درومې اشنا نو وعدې څاه کوې
هغه پرون دې خه وې نن چې بیا بله کوې
زما یقین ستا په اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما
ستړګې مې بې له تا نه د چا په لور نه ګوري
د ستا له مخه ځنې مخ نه نور نه ګوري
مرګې به کله په دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما
زه د بل چا د مینې اشنا څه طمعه نه کړم
زه به له تو دو سره ستا مینه سمه نه کړم
په ما خاطر دې که اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

له منزلونه او دیوانه کتې (چې) د ے

چې نه را درومې یاره ته، منع دې کړه یاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما
ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نه کړو مراد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما
چا ته بنکاره کړم خپل ځیګر
نه کړې پروا چې پرې دلبر
نورې دې خوک چې پې واوري دغه فریاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما
که بنه دې شي په سر زما
وي دې پیشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نار له تا، نشته باقي جانبداد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نن مخیه یاره تا ووینم
ښکله دنیا ووینم          ښکله دنیا ووینم

ستا د کاکل پهٔ تورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی

دی تماشه مې د ژړا چې د ې خندا ووینم
ښکله دنیا ووینم          ښکله دنیا ووینم

د ستا پهٔ مینه کښې د خلقو خندنے خوښ یم
خود خپل عقل نه وزګار شم لیونے خوښ یم

را سره غم د لیونو شی چې صحرا ووینم
ښکله دنیا ووینم          ښکله دنیا ووینم

ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شی
لهٔ ډېره هجره سرې ګلې د چشمان ګل شی

خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورے د سبا ووینم
ښکله دنیا ووینم          ښکله دنیا ووینم



د قام ځلمو سترګې مو پورته کړئ خپل ځان وګورئ
چرته کښې ورسېدهٔ ، وګورئ جهان وګورئ

دقام ځلمو زموږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنهٔ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نن پهٔ څېرې خپل طاقت پهٔ ټول جهان خور کړئ
پهٔ خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړئ

شا ته نور مهٔ ګورئ پهٔ وړاندې خپل قدم کېږدئ
پهٔ ورانو لارو باندې مهٔ ځئ قدم سم کېږدئ

لهٔ مخې لرې کړئ ازغي ځان ته ګلونه کېږدئ
شی چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدئ

موږ له چې مخې له راغلی وار خطا تللی دی
ځلمو زموږ نه مخې ډېر ځلی پهٔ شا تللی دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تاسو هم واورئ چې پېغور ته نظر تېت نۀ شي
د پاکستان ځلمو مېدان کښې مو سر تېت نۀ شي

د مشرانو تل ځلمو نصيحتونه نۀ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نۀ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ پکښې
دا تنګي لنډې کړئ اوارې چې خوشحال شئ پکښې

چې ننۀ يې ونۀ کړئ ځلمو بيا به يې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ پۀ خپله يې وکړئ

يو بل ته مۀ ګورئ ، لۀ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو کوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن پۀ خونه تندر د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ پۀ وېرو وينو د امکان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
دا دېکې مۀ کوه
هسې دېکې مۀ کوه
زړۀ د فولادو نه د هر يو مسلمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
غم د بلا نۀ کوو
د چا پروا نۀ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ورور کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

څاڅکې په شان وو اول
حیران پرېشان وو اول
اول وو څاڅکے اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شانته ولاړ
وائې خاطر چې کلک په شانې د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

ستا د هلال ستورے مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستورے بنکاری نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستورے سر او بصر دے زمونږ

تل ځلېږې په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library